رسول الله صلى الله عليه وسلم به نه پوهېده چې په کوم آيت باندې سورت پای ته ورسوي تر څو يې له بل سورت څخه جلا کړي تر دې چې {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} به پرې نازله شوه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به نه پوهېده چې په کوم آيت باندې سورت پای ته ورسوي تر څو يې له بل سورت څخه جلا کړي تر دې چې {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} به پرې نازله شوه.

[صحيح دی] [ابو داود روايت کړی دی]

ابن عباس رضي الله عنهما بيانوي چې د قرآن کريم سورتونه به په رسول الله صلى الله عليه وسلم نازلېدل خو هغه به د دوو سورتونو په جلاوالي نه پوهېده چې لومړی سورت په کوم ځای پای ته ورسوي، تر دې چې "بسم الله الرحمن الرحيم"، به پرې نازله شوه، نو پوه به شو چې مخکينی سورت پای ته ورسېده، او دا د نوي سورت پيل دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65051